DAILY ارادہ

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

۷۶۰

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ.ش

لسم کال - دویمه دوره، ۷۶۰ مه گڼه، پر له پسې ۱۸۲۷ گڼه د ۱۳۸۹ ل ـ د غوايي ۲ مه - د پنجشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د جمادي الاول ۸ مه ۲۰۱۰ د اپریل ۲۲ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

روند رو به رشد وضعیت مالداری در بلخ

با آنکه مسوولان زراعت و مالداری ولایت بلخ می گویند که پیشهٔ مالداری افزایش یافته، اما مالداران از تلفات مواشی شان به اثر امراض مختلفه، شکایت دارند. وکیل محمد امین نیازی، مدیرعمومی ترویج مالداری ریاست زراعت بلخ، در این مورد می گوید که طبق آمار ثبت شده نزد آنان، در سه سال گذشته، نزدیک به ۹۰۰ هزار مواشی در بلخ وجود داشت، اما حالا این رقم به یک میلیون راس مواشی رسیده است. نیازی بارنده گی های موسمی، توجه مالداران به نگهداری مواشی و زمینه سازی برای فروش لبنیات را ازعوامل افزایش مواشی خواند.

آغاز تحقیقات امریکاییان از ملا برادر

تحقیقات از شخص شماره دوم طالبان ملا عبدالغنی برادر توسط امریکاییان شروع شده و مقام های امریکایی می گویند که معلومات ارزنده را در مورد عملیات طالبان در امتداد سرحدات پاکستان از او بدست آورده اند.

ملا برادر در یک عملیات مشترک ماموران ادارهٔ استخبارات امریکا سی. آی. ای و ادارهٔ استخبارات نظامی پاکستان آی. اس. آی در اواخر ماه جنوری در شهر کراچی دستگیر شد.

در آغاز حکومت پاکستان میل نداشت که مقام های امریکایی از ملا برادر تحقیق کنند، اما بعداً شرایط را آسانتر ساخته، اکنون مقام های استخباراتی امریکا هم از او تحقیق می کنند.

به گزارش خبرگزاری رویترز، سه مقام استخباراتی امریکا که در تحقیق ملا عبدالغنی برادر اشتراک دارند، روز گذشته گفتند که بخشی از معلوماتی را که از شخص شماره دوم و قوماندان عمومی قوای طالبان به دست آورده اند، موثق ثابت شده که

ص۳

حبس ابد برای دو تن از اعضای بلک واتر

برای دو تن از اعضای سازمان امنیتی «بلک واتر» که به دلیل قتل دو تبعهٔ افغان دستگیر شده اند، محکمهٔ ایالات متحده تقاضای حکم اعدام نکرده است، ولی این دو شخص احتمالاً به حبس ابد محکوم خواهند شد.

شرکت بلک واتر تغییر اسم داده است و فعلاً بنام گروه ایکس فعالیت می کند. دو عضو این شرکت، به اسامی ژوستین کانون و کریستوفر دورتلف، که در افغانستان به عنوان آموزگار اردو کار می کردند، در نهم ماه می سال گذشته، در یک چهارراهی شهر کابل، به سوی مردم تیراندازی کردند و باعث قتل دو تن شدند. این دو شخص، در ماه جنوری دستگیر شدند و فعلاً دوسیهٔ آنان مراحل قضایی را سپری می کند.

ژوستین کانون گفته است که موتر حامل او و همکارانش، زمانی که مترجمان افغان را حمل می کردند، مورد اصابت یک واسطهٔ دیگر قرار گرفت و آنان مجبور به تیراندازی شدند. در حالی که څارنوالان واشنگتن تعبیر دیگری از این واقعه دارند. به گفتهٔ آنان، این دو متهم، برگشتن همکاران خود را جشن

ص۳

روزهای سخت دموکراسی در افغانستان

۲

په افغانستان کې د ناټو ملکي استازی:

د کندهار عملیات به د مارچ له هغو سره توپیر ولري

امریکایي او ناټو ځواکونه له څه مودې راهیسې په کندهار کې د سترو پوځي عملیاتو د پیل کولو خبرې کوي او وایي، په دې عملیاتو سره به د افغانستان جنوب او په خاص ډول کندهار ولایت له طالب وسلوالو څخه پاکه شي، خو په افغانستان کې د ناټو ملکي استازی وایي، چې د دې عملیاتو سیاسي پله به درنده وي.

په افغانستان کې د ناټو ملکي استازي مارک سیډویل د سې شنبې پر ورځ وویل، په کندهار کې د وسلوالو پر ضد د کېدونکو عملیاتو اصلي مقصد به په دې ولایت کې د حکومت ښه کول او د ولسي خلکو د زړونو او فکرونو خپلول وي.

ښاغلي سیډویل زیاته کړه، د کندهار عملیات به د مارچ د پوځي عملیاتو په څېر نه وي. د مارچ په عملیاتو کې شاوخوا پنځلس زره امریکایي، ناټو او افغان عسکر برخه درلوده.

د ناټو ملکي استازی وایي، د کندهار امنیتي عملیات به د ښار او ولسوالیو په شاوخوا کې ځای ځای تر سره کېږي، مشري به یې افغان ځواکونه کوي او قدم په قدم به امنیت ښه کوي. دا به کومه ستره غوڅا رامنځته نه کړي.

فرانسپرپس اژانس لیکي: امریکایي ځواکونه له څو میاشتو راهیسې د کندهار په ښار او شاوخوا سیمو کې په عملیاتو کې ښکېل دي او د سرتېرو شمېر یې زیات کړی دی.

د ازادي راډیو د راپور له مخې، ناټو او امریکا په افغانستان کې شاوخوا ۱۲۶ زره سرتېري لري، چې د وسلوالو پې ضد جګړو کې ښکېل دي. دا شمېر به د اګسټ میاشت کې ۱۵۰ زرو ته پورته شي. پوځي چارواکي وایي، کندهار ته به زیات شمېر تازه دمه سرتېري واستول شي.

پوځي چارواکي هیله من دي، د ولسي جرګې تر انتخاباتو مخکې چې د سمپتمبر میاشت کې به تر سره شي، په کندهار کې امنیت ښه کړي.

د ناټو ملکي استازی

۳مخ

وضعیت نابسامان زلزله زده گان ولایت سمنگان

سمنگان، ارادہ - به آسیب دیده گان زلزلهٔ شب دوشنبه در ولایت سمنگان از هیچ مرجعی تاهنوز کمک صورت نگرفته است. بربنیاد گفتهٔ خیرالله انوش، والی سمنگان، در زلزلهٔ شب دوشنبه ۷ تن کشته و ۱۳ تن زخمی گردیدند و نزدیک به ۳ هزار خانه در ولسوالی دره صوف بالا، ولسوالی دره صوف سفلی و ولسوالی روی دو آب تخریب شده است.

باشنده گان محل می گویند، تا حال برای شان از هیچ ارگانی کمک نرسیده است و اشخاصی که از این حادثه متضرر شده اند، در وضعیت بدی به سر می برند.

احمد علی شاه تمسکی یک تن از باشنده گان ولسوالی درهٔ صوف بالا و عضو شورای ولایتی سمنگان در این خصوص می گوید: "من از همه ساحات زلزله زده دیدن کرده ام، کسانی که خانه های شان خراب شده است، در فضای آزاد به سر

ص۳

په ننګرهار کې د ټوکر پروسېسولو یوې کارخانې پرانیستل وکړل

د صبور الکوزي د ټوکر پروسېسولو کارخانې، چې د متحدو ایالاتو د دولت له لوري د ایډیا نیو پروګرام په مرسته رامنځته شوې، د پټې په پرېکولو یې د غوایي پر لومړۍ نېټه، پر کار پیل وکړ.

په ننګرهار کې د ایډیا نیو د پروګرام ویاند ډاکټر جلال الدین کسات وویل، چې د ټوکر پروسېسولو دا مرکز د ننګرهار د روداتو، بټي کوټ، کامې او دره نور ولسوالیو د ټوکر اوبدلو څخه باندې ۲۰۰ کوچنیو او منځنیو فابریکو ته د مینځلو، رنګولو، پرېس کولو او لېبل لګولو خدمات وړاندې کوي.

کسات وویل، چې دا کارخانه اوسمهال په میاشت کې د شاوخوا ۲۵ زره متره نخي ټوکر، ۱۰ زره متره

۳مخ

افغان بندیان:

د ملي امنیت اداري څورولي او ربړولي یو

برېتانیا په واقعیت کې په ربړونه کې شریکه ده. دوی په ښکاره بندیان یوې داسې اداري ته سپاري چې د ربړونې دارووڼکی شهرت لري

د برېتانوي ځواکونو له خوا افغان استخباراتي اداري ته سپارل شویو افغان بندیانو ادعا کړې، چې دوی ملي امنیت اداري ربړولي او ځورولي دي. دغه ادعاوې په لندن کې په یوه لوړه محکمه کې راڅرګندې شوې دي. یو بل بندي وایي دی د دوو نیمو میاشتو لپاره هره ورځ له چته د راڅوړوندولو په مهال وهل کېده. 'ډان کاري' چې دغه قضیه یې راوړاندې کړې، د لوړې محکمې له ودانۍ بهر د خبرو په مهال وویل، د اعتراف تر لاسه کولو په موخه ځورونه او ربړونه په عادتي ډول کارول شوې ده: "برېتانیا په واقعیت کې په ربړونه کې شریکه ده. دوی په ښکاره بندیان یوې داسې اداري ته سپاري چې د ربړونې ډاروونکی شهرت لري. دغه هېواد نه شي کولای په همداسې توګه خپل سر پرله پسې په شګو کې ښخ وساتي، چې تر اوسه

۳مخ

د لوی او بښونکي خدای ج په نامه

سرمقاله

در آستانهٔ تدویر جرگهٔ ملی مشورتی صلح

تدویر جرگه ها و لویه جرگه ها در تاریخ پرافتخار سرزمین افغانستان، برای حل قضایا و چالش های فامیلی، قومی، اجتماعی، مملکتی و ملی، یک روش عنعنوی و سنتی این کشور بوده که در حالات اضطراری به منظور دریافت طرق حل معضله ها، از سالیان متمادی به اینسو مروج بوده است.

مردمان این خطهٔ باستانی کلتور و فرهنگ خاصی را نسبت به سایر جوامع دارا می باشند صداقت، اخلاص، وفاداری به عهد، فداکاری، ترحم و دلسوزی از شاخص های ارزنده و برجسته یی است که این مشخصات و ممیزات ملت سلحشور افغان را از سایر ملل جوامع متمایز می سازد.

تدویر جرگه های عنعنوی ملی از گذشته های بسیار دور برای حل قضایای ملی در دستور کار حکومت ها قرار داشته است؛ هر زمانی که حکومت های وقت در سطح ملی با مشکلی مواجه می شدند، برای دریافت راه حل چالش به میان آمده، از آراء و نظریات نخبه گان، دانشمندان، بزرگان قوم، اهل خبره و نماینده گان واقعی مردم خواهان کمک می شدند، تا نظریات شان را پیرامون پرابلم های ایجاد شده ارایه نمایند.

این بار نیز در این برههٔ حساس تاریخی که کشور در مرحلهٔ گذار از یک بحران امنیتی قرار دارد که روزانه تعداد بی شماری از ساکنان این کشور به دلایل غیر موجه قربانی سوء تفاهمات می گردند، تصمیم اتخاذ گردیده تا برای رفع سوء تفاهمات، زمینهٔ مفاهمه و مذاکره ایجاد گردد و با صرف نظر نمودن از سلیقه های شخصی و گروپی، فضایی ایجاد گردد، تا هموطنان ما در سایهٔ چتر صلح و آرامش قادر به ادامهٔ زنده گی روزمرهٔ خویش گردند و نظر به گفتهٔ افلاطون که :" سعادت جامعه به مراتب بهتر و مهمتر از سعادت فرد است." خیر و فلاح اجتماعی نسبت به مفاد فردی ارجحیت داده شود.

دولت افغانستان به تاسی از این مفکوره، به منظور رفع بحران جاری امنیتی در کشور خواهان تدویر جرگهٔ مشورتی گردیده که قرار است، در اوسط ماه ثور سال روان خورشیدی در کابل دایر گردد.

قرار است در این جرگه بیش از ۱۳۰۰ تن اعم از اعضای قوهٔ مقننه، مجریه و قضاییه، دیپلومات های کشورهای خارجی، نماینده گان مهاجران افغان در ایران و پاکستان، نخبه گان کشور، استادان موسسات تعلیمی و تحصیلی، نماینده گان نهادهای سیاسی و جامعهٔ مدنی، اعضای کابینه، ستره محکمه، لوی څارنوالی، مشاوران رییس جمهور، روسای کمیسیون ها وادارات مستقل اشتراک نمایند. این جرگه که از سوی دولت افغانستان تمویل می شود، در مراسم افتتاحیه و اختتامیهٔ آن ۲۰۰ تن دیپلومات و سفیر کشورهای خارجی نیز، حضور خواهند یافت.

هدف از برگزاری این جرگه، مفاهمه و موافقه با ملت افغانستان برای رسیدن به صلح دوامدار، موافقه روی چهارچوب مفاهمه با مخالفان و ایجاد میکانیزم مفاهمه با مخالفان است.

تدویر این جرگه اگر با همان خصوصیات جرگه های اصیل افغانی که نیاکان و گذشته گان ما دایر نموده بودند، صورت گیرد، اقدام بسیار بجا و قابل ستایش خواهد بود و نتایج مثمری نیز در قبال خواهد داشت، ولی اگر این جرگه به شکل سمبولیک ونمایشی، خاص به منظور بهره برداری سیاسی، حفظ و بقای موقف حکومتی و اخذ کریدت دایر گردد، واضح است که نه تنها امیدی به نتایج حاصله از این نشست را نداشته باشیم، بلکه بقای حکومت را متزلزل تر و موقف دولتمردان را بی اعتبار تر خواهد ساخت.

پس چه بهتر خواهد بود، همچنانکه در امور حاشیه یی تدویر این جرگه زحمات و مصارف زیادی صورت گرفته، متن این جرگه نیز با رنگ صداقت و اخلاص رقم زده شود، تا تصامیم و فیصله های این جرگه ارمغان مانده گار برای نسل های آیندهٔ کشور باشد.

زیرا دستاورد این گونه جرگه ها که در باطن امر مظهر ارادهٔ ملت است، باید در تحقق آرمان های ملی مردمان این کشور نهفته بوده و نتایج آن بیانگر اراده ملت باشد. زیرا هر جمیعتی متفرق می شود و هر ترکیبی به تحلیل می رود، جز ارادهٔ ملی که همچنان جاویدان باقی خواهد ماند.

روزهای سخت دموکراسی در افغانستان

سیدمحمدرضا موسوی

هر چند نزدیک به ۸ ماه از زمان برگزاری انتخابات ریاست‌جمهوری می‌گذرد، ولی ظاهرا حاشیه‌های این انتخابات همچنان ادامه دارد.

جدیدترین جنجال دومین دورهٔ انتخابات ریاست‌جمهوری افغانستان که این روزها به سوژهٔ بسیاری از رسانه‌ها تبدیل شده است، به اظهارات بی‌سابقهٔ چند روز پیش رییس جمهور کرزی در کمیسیون مستقل انتخابات افغانستان بازمی‌گردد. رییس‌جمهور کرزی در این نطق جنجالی خود به تقلب گسترده در دومین دورهٔ انتخابات ریاست‌جمهوری و شوراهای ولایتی کشور به طور رسمی اعتراف کرد.

حامد کرزی با بیان اینکه انتخابات ریاست‌جمهوری از مداخله‌های نیروهای خارجی مصون نبود، اعلام کرد که تقلب گسترده‌یی در انتخابات صورت گرفته است، ولی این تخلفات را نه افغان‌ها، بلکه مقام‌های خارجی مامور در افغانستان مرتکب شده‌اند. اوج اظهارات کرزی زمانی بود که او نام پیترگالبرایت، فرستادهٔ سابق سازمان ملل و فیلیپ موریلون، سرپرست هیأت اتحادیهٔ اروپا را به‌عنوان عوامل تقلب در انتخابات افغانستان مطرح کرد.

هر چند بسیاری از کارشناسان علت این سخنرانی شدیداللحن را مخالفت پارلمان افغانستان با طرح پیشنهادی کرزی در مورد اصلاح قانون انتخابات می‌دانند، ولی اینگونه احساس می‌شود که هدف کرزی فراتر از نامشروع جلوه دادن نتایج انتخاباتی است که خود پیروز آن بوده.

حامد کرزی همچنین با غیرقانونی خواندن تصمیم پارلمان در مخالفت با طرح پیشنهادی خود آن را ناشی از اعمال نفوذ نیروهای خارجی در پارلمان افغانستان دانست و از آن تعبیر به مداخلهٔ ویرانگر و مترادف با اشغالگری کرد. برای کسانی که به مسایل افغانستان آشنا هستند، اعتراض کرزی به نیروهای خارجی خبر تازه‌یی نیست، اما در گذشته اعتراض‌های کرزی به‌طور عمده حول محور کشتار غیرنظامیان افغان و بمباردمان‌های مرگبار نیروهای ناتو بود. مواضع کرزی در سخنرانی اخیر او اما به‌قدری دور از انتظار بود که بر همگان مسلم شد که شکاف‌های عمیقی میان دولت افغانستان و متحدان بین‌المللی این کشور به‌وجود آمده است که به ساده گی نمی‌توان از کنار آن عبور کرد.

پیشتر از یک سال قبل بود که جورج بوش، رییس‌جمهور پیشین امریکا، آخرین سفر خود را به افغانستان انجام داد و در یک نشست خبری مشترک با حامد کرزی به تداوم حمایت‌های امریکا از افغانستان در مبارزه با تروریزم تأکید کرد. حامد کرزی در آن نشست از کاخ سفید کمک‌های مالی، نظامی و تخنیکی بیشتری را درخواست کرد و جورج بوش در یک پاسخ آمیخته به طنز به کرزی گفت: پس بهتر است، عجله کنید، چون من هنوز کاخ سفید را ترک نکرده ام.

به عقیدهٔ بسیاری چالش کرزی با متحدان غربی‌اش در گذشته بسیار ناچیز و اندک بود، اما مسأله‌یی که ناگهان همه چیز را دگرگون کرد، رویکار آمدن رییس‌جمهور جدید در کاخ سفید بود. ظهور اوباما در قامت رییس‌جمهور امریکا و سقوط تدریجی بسیاری از حامیان کرزی در کشورهای مختلف اروپایی که آغازگران اولیهٔ جنگ افغانستان بودند، کرزی را در موقعیت جدیدی قرار داد که با چند سال گذشته بسیار متفاوت بود.

کرزی محصول ۸ سال حضور جمهوریخواهان در کاخ سفید بود و این در حالی است که نگاه اوباما نسبت به مسایل مبارزه با تروریزم، تفاوت‌های عمده‌یی با استراتیژی های جورج بوش دارد.

اوباما از همان ابتدا در مدیریت بحران افغانستان نیازی به کرزی احساس نمی‌کرد. اولویت بخشیدن جبههٔ افغانستان به جبههٔ عراق و انتقاد از چارچوب‌های اصلی استراتیژی جمهوریخواهان در مبارزه با تروریزم تقریبا از همان اوایل دورهٔ اوباما ثابت کرد که جبههٔ افغانستان با تغییرات شگرفی روبه‌رو خواهد شد؛ تغییراتی که بتواند، جبههٔ تقریبا شکست خوردهٔ افغانستان را در مسیر ص۳

از کنفرانس های بین المللی تا کنفرانس کابل

مشتاق احمد بخشی

کنفرانس کابل که بعد از کنفرانس های بین المللی بن (دسمبر سال ۲۰۰۱)، توکیو (۲۱ جنوری سال ۲۰۰۲)، برلین (۳۱ مارچ سال ۲۰۰۴)، کنفرانس اول لندن (۱ فبروری سال ۲۰۰۶)، روم (جولای ۲۰۰۷)، پاریس (۱۶ جون سال ۲۰۰۸)، و کنفرانس دوم لندن (۲۸ جنوری سال ۲۰۱۰) قرار است، در ۱۰ می ۲۰۱۰ میلادی مطابق به ۲۰ ثور سال جاری هجری شمسی در پایتخت کشور (کابل) دایر شود و تا سه روز ادامه یابد، از تمامی اقشار جامعهٔ افغانی خواسته خواهد شد، تا در این کنفرانس شرکت جویند و طرح های خود را برای برقراری صلح در کشور پیشکش کنند. قسمی که برآورد می گردد، در این کنفرانس که به جرگهٔ مشورتی صلح نیز، شهرت یافته است، از جناح های درگیر جنگ و گروه های مخالف مسلح دولت به خصوص گروه طالبان و افراد وابسته به حزب اسلامی حکمتیار تقاضا خواهد شد، تا از مخالفت دست کشیده و با گذاشتن اسلحهٔ خود به زمین، به این روند بپیوندند.

فاروق وردک، وزیر معارف کشور که همزمان به حیث رییس کمیسیون تخنیکی برای برگزاری جرگه مشورتی صلح از سوی رییس جمهور تعیین شده است، در رابطه به این جرگه می گوید که این جرگه برای سه روز با شرکت ۱۴۰۰ نماینده از تمام اقشار جامعهٔ افغانستان برگزار می شود.

بنابر گفتهٔ وی در این جرگهٔ صلح سه هدف عمده دنبال می شود:

۱- مشوره، مفاهمه و موافقه با ملت افغانستان برای رسیدن به صلح پایه دار.

۲- موافقه روی چارچوب مفاهمه با مخالفان.

۳- ایجاد میکانیزم رسیدن به مفاهمه با مخالفان.

همچنان تبصره می شود که در این جرگهٔ صلح برعلاوهٔ سه هدف فوق، هدف چهارمی هم دنبال شود که آن عبارت از:

۴- تقویت وحدت ملی، توحید نظر و توحید موقف ملت افغانستان در قبال قضایای مهم، از جمله مسایل ناامنی های موجود.

بر بنیاد پیش بینی های کمیسیون برگزاری جرگهٔ مشورتی صلح، دراین جرگه نماینده گان هر دو مجلس شورای ملی افغانستان، ۵۷ تن از اعضای شوراهای ولایتی، اعضای پیشین مجلس سنا، والی های ولایت های سی و چهار گانهٔ افغانستان، یک تن از متنفذان قومی از تمام ولسوالی های افغانستان، کل اعضای شورای علمای افغانستان، ۳۰ تن از نهادهای اجتماعی، فرهنگی و جامعهٔ ص۳

آغاز تحقیقات امریکاییان از ...

این معلومات برای قوماندانان امریکا، ماموران استخباراتی و تحلیلگران آن در افغانستان و واشنگتن مهم می باشد.

این افراد که به خاطر حساسیت موضوع نخواستند نام های شان ذکر شود، در بارهٔ معلومات به دست آمده توضیحات ندادند. اما آن ها افزودند که در این تحقیقات پاکستان نقش اساسی دارد.

یک مقام امریکایی به تحقیقات ملا برادر اشاره کرده به خبرگزاری رویترز گفته است که این مسایل به وقت زیاد نیاز دارد. به گفتهٔ وی، به دست آوردن معلومات و تفتیش موثق بودن آن وقت به کار دارد.

دستگیری ملا برادر، از سوی قوماندان عمومی قوای امریکا و ناتو در افغانستان استقبال شد و در جنگ هشت ساله در افغانستان یک نقطهٔ عطف به شمار می رود. اما یک تعداد دیگر از مقام های امریکایی اهمیت معلومات را که تحقیق کننده گان پاکستانی از ملا برادر به دست آورده اند، برازنده نمی شمارند.

مقام های امریکایی می گویند که از زمان بازداشت ملا برادر در صفوف طالبان، یک نوع پراکنده گی ایجاد شده است که می تواند، شورشیان را تضعیف کند.

ملا برادر تمام عملیات های روزمرهٔ طالبان را در افغانستان تحت نظر داشت که در اواخر این عملیات برای قوای امریکا و ناتو خونین تر شده بود.

اما یک تعداد در بارهٔ انگیزه و اسراری که در عقب بازداشت ملا برادر در پاکستان نهفته است، سوال های زیاد دارند، به طور مثال چه معلومات سبب بازداشت ملا برادر شد و چرا آی. اس. آی یک باره بر علیه متحد سابق خود اقدام کرد.

یک مقام نظامی بلند رتبهٔ امریکایی در کابل این عمل را جزیی از بازی قدرت توسط پاکستان خواند که می خواهد، در پروسهٔ مصالحهٔ افغانستان، نقش بیشتری داشته باشد.

این مقام نظامی امریکا که نخواست نامش ذکرشود، به خبرگزاری رویترز گفته است، به عقیدهٔ وی، این یک اقدام برای کنترول مذاکرات می باشد و ضمانت می کند که پاکستان در نتایج نهایی مذاکرات برای صلح در افغانستان دخیل خواهد بود.

این مقام امریکایی گفته است، وی اطمینان دارد که پاکستان خواهان چنین یک موقف می باشد و آن ها می خواهند، اعتماد حاصل کنند که صدای آن ها در نتایج این مذاکرات بی تاثیر نخواهد بود.

در این اواخر خبرهای ضد و نقیض به نشر رسیده است که به احتمال قوی ملا برادر با رییس جمهور افغانستان حامد کرزی در تماس بود و این عمل سبب بازداشت وی شد.

مشاوران امریکایی و ناتو در افغانستان از رییس جمهور کرزی تقاضا داشتند که برای رسیدن به یک موافقه با مخالفان در چهارچوب برنامهٔ مصالحهٔ ملی عجله نکند. به نظر آن ها، حد اقل سه سال به کار است، تا زمینه برای مصالحهٔ واقعی در افغانستان مساعد شود.

وضعیت نابسامان زلزله زده گان ...

می برند نه خیمه دارند و نه هیچگونه سر پناهی، یک حالت وحشت بار در محیط حاکم است و تا حال هیچ کمکی به مردم نرسیده است."

آب وهوای نامناسب، نبود خیمه و سرپناه از یک سو، بی توجهی دولت مرکزی و نهادهای امداد رسان باعث شده است که نه تنها آسیب دیده گان، بلکه مسوولان محلی نیز، از تاخیر در کمک ها شکایت کنند.

ولسوالی های درهٔ صوف بالا و پایین و ولسوالی روی دو آب از مناطق دوردست و فراموش شده و در میان کوه ها واقع است. خیرالله انوش، والی سمنگان، با اشاره به مشکل راه های ارتباطی می گوید که کمک های اولیه به منطقه فرستاده شده است.

انوش خاطر نشان می کند: "مواد خوراکی والبسه به آسیب دیده گان ارسال نمودیم، اما به علت بارش باران وخرابی راه که سرک های ولسوالی ها ی این ولایت خامه است، هنوز این کمک ها نرسیده است."

نبود راه های مواصلاتی در درهٔ صوف، بیانگر بی توجهی به بازسازی زیرساخت ها در این مناطق است.

والی سمنگان می گوید، آنها صرف یک مقدار کمک های اولیه را توسط ریاست انکشاف دهات ولایات بلخ وسمنگان فراهم کرده اند. می گوید: "از جانب موسسات دیگر، تا هنوز در این رابطه کمک صورت نگرفته است."

در همین حال، احمد علی حسنی ولسوال درهٔ صوف بالا، به خبرگزاری پژواک گفته است که به اثر زلزله در این ولسوالی یکتن کشته، یکتن زخمی و ۱۵۰۰ منزل رهایشی تخریب شده است.

وی ابراز داشته که باران آسیب دیده گان زلزله را به مشکلات گوناگون مواجه نموده و سرپناه مطمین ندارند.

وی می افزاید: "تا هنوز به این مردم غم دیده، هیچ کمکی نرسیده است."

مخدوم محب الله ولسوال درهٔ صوف پایین نیز می گوید که در این ولسوالی در اثر زلزله یکتن کشته، یکتن زخمی و ۱۵۰ منزل رهایشی تخریب شده است.

وی می افزاید: "مشکلات واقعاً زیاد است، اما کمک درک ندارد."

عبدالله ۶۱ ساله، باشندهٔ قریهٔ چله مزار درهٔ صوف پایین که در زیر یک تپه زنده گی می کند، می گوید که در زلزله دو اتاق خانه اش از بین رفته و دو اتاق دیگر قسماً تخریب شده است.

این پیرمرد می گوید: "اعمار دوبارهٔ این اتاق ها از توانم بالاست، از هیچ مرجعی کمک دریافت نکردیم."

شمال کوه های هندوکش از جملهٔ مناطق زلزله خیز افغانستان شناخته می شود. چند سال قبل در ولایت تخار نیز زلزلهٔ شدیدی صورت گرفت که تلفات جانی و مالی زیادی را در پی داشت.

حبس ابد برای دو تن از اعضای ...

گرفته بودند و در طول روز، بسیار الکول مصرف کرده بودند. همچنان، این دو شخص، بدون اجازه پایگاه خود را ترک کرده بودند. بر اساس تحقیقات رسمی در ایالات متحده، موتری که به سوی آنان آمده بود، بعد از آگاهی از وضع متشنج آنان، فرار کرده بود. ولی کانون و دورتلف به طرف آنان تیر اندازی کرده و راننده و یکنفر پیاده رو را کشته بودند.

در طی این سال ها، قضایای جنایی زیادی دامنگیر سازمان «بلک واتر» شده است. هفتهٔ قبل، رییس سابق این شرکت و چهار تن از مسوولان آن، به جرم حمل سلاح و شهادت دروغین متهم شدند. مهمترین قضیهٔ جنایی، البته، کشته شدن ۱۴ تن غیرنظامی در سال ۲۰۰۷ در بغداد بود که آن هم کار «بلک واتر» بوده است.

از کنفرانس های بین المللی تا کنفرانس ...

مدنی افغانستان، ۱۵ تن از اتحادیه های صنفی و معلولان، ۳۰ تن ازنماینده گان مهاجران افغان در ایران و ۵۰ نمایندهٔ مهاجران پاکستان، ۳۰ نمایندهٔ صنعتکاران و سکتور خصوصی حضور می یابند. به گفتهٔ وردک، اعضای ستره محکمه، کابینه، کمیسیون های مستقل، مشاوران رییس جمهور، سفیران و نماینده گان کشورهای خارجی به عنوان مهمان، در این جرگه شرکت می کنند.

قسمی که دیده می شود، در سه دههٔ اخیر این نخستین همایشی است که برای به میز مذاکره کشاندن مخالفان مسلح دولت در کشور دایر می گردد؛ هرچند در رژیم های گذشته نیز، کوشش می شد که این طور کنفرانس ها و همایش ها به خاطر تأمین صلح و ثبات در کشور دایر گردد، اما با اینکه آن همایش ها تعداد بیشتری از اقوام مختلف کشور را در بر نمی گرفت، موثر واقع نمی شد.

با وجود آنکه، کنفرانس های بین المللی متعددی تا به حال با تعهدات فراوان در رابطه به افغانستان برگزار گردیده است، به اندازه یی که در ابتدا از آنها انتظار می رفت، کارآیی نداشته است؛ اما دیده شود که این کنفرانس که برای بار اول در داخل کشور وآنهم در پایتخت برگزار می گردد، آیا می تواند، کارآیی داشته باشد، یا خیر؟ به هرحال امید بر آن است که این جرگه بتواند، راه حل های مناسب را در تفاهم با تمام اقشار جامعه جستجو نموده و نتیجهٔ آن پایان خشونت ها و درگیری های موجود باشد؛ ضمناً باعث تأمین ثبات و امنیت قابل اعتبار و صلح سراسری در جامعهٔ افغانی گردد.

روزهای سخت دموکراسی ...

جدیدی قرار دهد و به رهایی امریکا از این باتلاق منجر شود.

اینکه در دومین انتخابات ریاست‌جمهوری افغانستان باز هم امریکایی‌ها به حمایت از کرزی پرداختند، نه به خاطر نیاز به کرزی، بلکه بیشتر نشأت گرفته از یک سری مسایل امنیتی، قومی و... در افغانستان بود. با وجود این تنش‌زدایی موقت، اما بازهم دموکرات‌های امریکا با کرزی دچار مشکل شدند. اوباما از همان ابتداء در توجیه شکست‌های امریکا همه چیز را متوجه ناکارآمدی دولت حاکم بر افغانستان و شخص حامد کرزی کرد. هر چند این اقدام کاخ سفید از سوی کرزی بی‌پاسخ نماند و به شکل‌های مختلف نشان داده شد، ولی بر همگان روشن شد که جبههٔ افغانستان دیگر آن انسجام سال‌های اولیه را ندارد.

با وجود تمام این مسایل، اینطور احساس می‌شود که نیروهای خارجی برای مهار کرزی به جای اینکه به‌طور مستقیم با وی روبه‌رو شوند، این بار راه جدیدی را پیدا کرده‌اند و آن راه از شبکهٔ پارلمان افغانستان می‌گذرد. به‌رغم گذشت چند ماه هنوز برای تعدادی از وزارتخانه‌های افغانستان وزیری تعیین نشده است و مجلس کماکان با افراد پیشنهادی کرزی برای تصدی وزارتخانه‌ها موافقت نمی‌کند. بودجهٔ پیشنهادی دولت افغانستان برای سال ۸۹ هم از سوی پارلمان این کشور پذیرفته نشده و اخیرا هم نماینده گان با طرح پیشنهادی حامدکرزی در مورد اصلاح قانون انتخابات افغانستان مخالفت کرده‌اند.

اظهارات ضد دولتی بسیاری از نماینده گان در بسیاری از رسانه‌ها هم به شکل چشمگیری افزایش پیدا کرده است و در این میان، کرزی علت این همه مخالفت را نفوذ شبکه های قدرتمند وابسته به نیروهای خارجی در این کشور می‌داند. حال از این منازعه چه کسی پیروز بیرون بیاید و چه کسی صحنه را ترک کند، چندان مهم نیست.

دغدغهٔ روشنفکران افغان این است که حوادث و رویدادهای یک سال اخیر اعم از تقلب‌های انتخاباتی صورت گرفته، مداخلات گستردهٔ نیروهای خارجی، تنش روزافزون در روابط دولت و پارلمان، رشد روزافزون عملیات‌های طالبان، فساد بالای اداری، افزایش سرسام‌آور کشت موادمخدر و کاهش مشروعیت دولت مرکزی به قربانی شدن دموکراسی نوپای افغانی منجر شود.

تردیدی وجود ندارد که اگر وضع به همین صورت پیش برود، این دموکراسی افغانی است که بیشترین تاوان را باید پرداخت کند. اعتراف به تقلب گسترده و بی‌اعتبار جلوه دادن انتخابات ریاست‌جمهوری آن هم در شرایطی که افغانستان تا مدتی دیگر، دومین دورهٔ انتخابات پارلمانی خود را برگزار خواهد کرد، به این باور دامن زده است که شرایط لازم برای تحقق یک انتخابات سالم در افغانستان وجود ندارد و این به معنای تیره و تار شدن هر چه بیشتر چشم‌انداز مبارزه با تروریزم در جبههٔ افغانستان خواهد بود.

په ننګرهار کې د ټوکر پروسېسولو یوې کارخانې پر کار...

وړینو او نیلوني شالونو او زرګونو مترو ښځینه جامو د پروسېسولو وړتیا لري. کسات زیاته کړه، چې دوولسو ځایي خلکو تر روزنې وروسته په دې کارخانه کې دایمي دندې موندلې دي. جلال الدین کسات وویل، چې د دې دستګاه تر رامنځته کېدو وروسته، د دې ولایت اوبدونکي نور اړ نه دي، چې خپل تولیدات د پروسېس کولو لپاره پاکستان ته ولېږدوي او په عین حال کې د نورو ښلګو په تولیدولو سره له راواردو شویو تولیداتو سره د رقابت ښه فُرصت لري. د ایډیا نیو پروګرام ویاند وویل، چې دا فابریکه به خپلې مرستې د دستګاه لګولو، د چلولو او د لګښتونو برابرولو په بدل کې د پروسېسولو خدمات د راتلونکو شپږو میاشتو لپاره په وړیا توګه وړاندې کوي. کسات وویل چې شپږ میاشتې وروسته به اوبدونکي د پروسېسولو لګښت ۲۵ سلنه ورکوي، چې دا ډول مرستې به تر دوو کلونو دوام وکړي. د ننګرهار د صنعت کارانو د اتحادیې مسوول انجنیر غلام حسن پژواک ته وویل، چې دغې فابریکې په لسګونو بې روزګاه خلکو ته د کار زمینه برابره کړې، خو له دولت، ولس او سوداګرو څخه غوښتنه کوي، چې د دې فابریکې ملاتړ وکړي.

انجنیر حسین پر دولت غږ وکړ، چې نوموړې فابریکې ته ځمکه ورکړي، د بریښنا سیسټم ورته جوړ کړي، په مالیه کې ورسره مرسته وکړي او نورې لازمې اسانتیاوې ورته برابرې کړي.

د ملي امنیت اداري ځوروليي ...

يې کوي.'' د برېتانیا د دفاع وزارت وکیلان دا خبره ردوي چې ربړونه ورځني کړه وړه دي او زیاتوي د ساتنې تدبیر نه نیول شوي، چې د ناوړه چلند مخنیوی وکړي.

درېیو بندیانو ویلي، د افغانستان د ملي امنیت اداري غړو دوی له چت نه راځړولي وو، وهل يې یا يې برېښنایي ټکان ورکاوه. د سولې یو فعال غواړي له قانوني پلوه د برېتانیا دغه تګلاره وننګوي، چې له مخې يې د اورپکې په شک نیول شوي کسان د افغانستان ملي امنیت اداري ته سپارل کېږي او دا دلیل وایي، چې بندیان له خورا ناوړه خورونو او تېریو سره مخامخ کېږي. د بشري حقونو ډلې له ډېر پخوا راهیسې د افغانستان د استخباراتي یا ملي امنیت اداري په اړه اندېښنې لري. اوس له لورې محکمې غوښتنه شوې، په دې اړه پرېکړه وکړي چې افغان ملي امنیت اداري ته د اروپکې په شک د نیول شوو کسانو په سپارولو سره برېتانیا د اروپا د بشري حقونو له قانونونو سرغړونه کړې که نه؟ د بي بي سي د راپور پر بنسټ، اوس څرګنده شوې، یو بندي چې د برېتانوي ځواکونو له خوا د افغانستان ملي امنیت اداري ته سپارل شوی ویلي يې دي، افغان استخباراتي پولیسو ده ته برېښنایي ټکانونه ورکړي او له چته يې راخوړند کړی و.

د کندهار عملیات به د مارچې له هغو سره ...

مارک سیډ ویل وایې، د کندهار د عملیاتو مهمه برخه به داوي، چې په دې ولایت کې حکومتي سیستم ښه شي، په ولسوالیو کې قضایي او عدلس چارې سمې شي، څو خلک د خپلو ستونزو د حل په مقصد د طالبانو د غیر رسمې محکمو پر ځای حکومتي اداروته مراجعه وکړي.

په افغانستان کې جګړه څنګه پای ته ورسوو؟

لیکوال: ډېوډ میلیبنډ — **دویمه برخه** — **ژباړن: رحیم الله بشارت**

اوس له ټولنې سره د طالب جنګیالیو د بیایوځای کولو لپاره یوه نړیواله موافقه شته، چې ملګري ملتونه یې داسې تعریفوي ،،هغه پروسه چې پرمټ یې پخوانۍ جنګیالي ولسي حیثیت خپلوي او دوامداره دنده او ګټه ترلاسه کوي،، د دې پروګرام شاته پروت منطق ساده دی، ځومره چې پر بغاوت کوونکو باندې پوځي فشار زیاتېږي او له هغوی سره د جګړې د اوږدېدو وېره پیداکېږي او بری ورته لاپسې لرې ښکاري، نو هغه کسان چې د بغاوت په ځنډه ولاړ دي، هغوی به په خپله ژمنتیاله سره کتنه وکړي. لکه څنګه چې د دې کال په سر کې مور داسې ښلګې لیدلې دي.

خود داسې بیاجوړښت د ټینګ ساتلو لپاره یوازې د دندو پیداکول بسنه نه کوي، بلکې له خپلو پخوانیو متحدینو سره له اړیکو نه د دوی ساتل هم اړین دي او د ولسمشر کرزي له خوا د سولې، پخلاینې او بیایوځای کېدنې لپاره د وړاندیزشوې شورا ارزښت هم په دې کې دی، دکومې لپاره چې نړیوالې ټولنې د ۱۵۰ میلیون ډالره ژمنه کړې ده.

خو زه به په دې زور واچوم، چې دغه بیایوځای کېدنه به هغه وخت ښه اغېز ولري. چې د هغو خلکو وېرې، اندېښنې او غمونه هم لرې شي چې ولسمشر کرزی یې ،،خپل ناراضي وطندار ګڼي،، د ښلګې په ډول طالبان او نور مخالفان، د دوی د هغو اندېښنو د پېژندلو او ځواب ویلو لپاره چې بغاوت ته تېل او انرژي ورکوي، که یوه رښتینې هڅه ونه شي، نو دا به ګرانه وي چې د دوی یو ارزښتمن شمېر په دې قانع کړای شي، چې د دولت پرضد د جګړې پرځای، د دولت لپاره په کارکولوکې د دوی خوښې ګټې ښې خوندي کېدای شي.

خینې باغیان د القاعده متشددې سخت دریځې(افراطي) اجنډاته ژمن دي. له دوی سره به هېڅ پخلاینه نه وي، دوی به خامخا ماتېږي. خو د دوی اکثریت داسې نه دی. دوی محافظه کار اسلامي عقاید لري او له دې سره ترلې دي، خو لوی نظر یې په دې اړه دی، چې ټولنیز نظم او قانون باید څنګه وي. د دوی لویه چیغه د نړیوالو پوځونو شړل دي، خو دوی هم په افغان دولت او سیاست قوي بې باورۍ پارولې (تحریک) کړې دي، دوی دولت ته د یو بې کفایته او مفسد دولت په سترګه ګوري. د هرچا دا فکر پلی کول به ګران وي، چې هغه خلک په سیاسي بوختیاکې راګډ کړي، چې په مستقیمه یاغیرمستقیمه توګه زمورږ پر پوځونو بریدونه کوي، خو مورږ هېڅ حق نه لرو، چې د هغو افغانانو پرځای چې د طالبانو د بېرته نه راستنېدو دعوې کوي، پرهغوی خپل فکرونه او ارزښتونه ومنو،خو خبرې اترې (مزاکره) نه تسلیت ورکول دي او نه د دوښمنو قواوو او سیاستمدارانو ترمنځ خبرې دي.

افغانان باید خامخا داسې یو سیاسي جوړښت رامنځته کړي، که څه هم چې یوه پڅه او پراولرونکې پروسه به وي، خو مخالفان به د دې لپاره نړیوال ملاتړ او نړیوال منځګړیتوب غواړي. د ببلګې په ډول د ملګرو ملتونو نظر او مراقبت به په پای کې ضروري وي. نوبیا د دې اړتیاشته، هغه شرطونه چې له خبرو وړاندې اېښودل کېږي، باید روښانه شي، یانې هغه ځوک چې د خپل هېواد په سیاست کې برخه غواړي، باید له القاعده سره اړیکي وشکوي، خپلې وسلوالې هڅې پرېږدي او د افغان اساسي قانون چوکاټ ومني. نو له دې لارې به بیا د دوی غوښتنې او خوښې وپېژندل شي، یو سیاسي غږ به ورکړل شي، خو دا ټول به د ولس د قانون او دنورو اړخونو دخوښو او اړتیاوو په نظر کې نیولو سره ترسره کېږي.

ولسمشر کرزي د سولې په خپلو تکراري غوښتنوکې دا خبره روښانه کړې ده، چې هغه مهال داسې شرطونه د یوه وروستي توافق برخه ګرځېدای شي، چې د خبرو د پرمختګ مخه ونه نیسي. د نړیوالو او افغان ځواکونو زیاتېدل باید دهر لوري په فکر کې وي. خبرې اترې د خرڅ او ترپ (د جګړې او یاتېښتې)یو بدیل راکوي. د یوه داسې سیاسي لاسرسي political outreach دپروسې یوې پایلې ته رسول به وخت اخلي او ډېرو هڅو ته به اړتیالري. خو د خبرو د پیل د بنسټ اېښودلو وخت همدا اوس دی، چې د افغانو اونړیوالو ځواکونو له پراخ شتون نه ګټه واخیستل شي. ولسمشر کرزي د اپریل پر ۲۹ د پراخې مشورې لپاره د سولې لویه جرګه راوبلي، چې ۱۴۰۰غړي او مېلمانه به په کې ګډون کوي، چې د پارلمان غړي، د ولایتي شوراګانو غړي، والیان، مذهبي او قومي مشران او د مدني ټولنې غړي او د ښځو د ټولنو غړي به په کې راوبلل کېږي. دا باید یوه نوي قومي سیاسي جوړښت د جوړولو پیل وي، په دې هکله هغه وویل: د دې موخه د بیایوځای کېدنې او پخلاینې په اړه له افغانانوسره سلامشوره ده، چې چېرته پخلاینه شونې ده او چېرته نه او چې د خلکو په مشوره د سولې لپاره د عمل یوپلان هم جوړ کړل شي.

داچې دغه سیاسي جوړښت باید څنګه وي؟

یو بهرنی یوازې دا وړاندیزونه کولای شي:

لومړی، داسې یوسیاسي جوړښت دې رامنځته شي، چې هغو قومي او نژادي ګروپونو ته چې د ښ له کنفرانس نه شړل شوي وو، په سیاسي پروسته کې یوه رښتینې وندې ورکړل شي، چې د سیاسي نمایندګۍ لپاره مبارزه او سیالي وکړای شي. یو سوله ییز جوړښت کې باید فاتح او مفتوح دواړه برخه ولري.

د داسې کار کولو لپاره، ښایي چې نوی سیاسي جوړښت د اغېز او نظر بېلابېلو ډلو ته یو غږ ورکړي. سیاسي دفترونو او دولتي دندو ته د راتګ دروازې ورته خلاصې وي او د دې هڅه باید وشي چې د افغان ملي اردو نژادي ببس وغځول شي. دا شیان به افغانان وهڅوي چې د خپلو او خپلو ډلو او ټولنو د اندېښنو ځواب په عمل اوسیستم کې وویني او دا به هغوی ته د دې موکه برابره کړي، چې د افغانستان په پرمختګ او ثبات کې برخه واخلي او له دې لارې به هغه هدف ته ورسېږي، چې د ډېرو مخالفتونو کیلي ده او هغه د بهرنیوځواکونو وتل دي، چې لومړی به د ملاتړ او روزنې رول ته راکوز شي او بیابه پوره ووځي.

دویم، والیانو او ولسوالانو او د دوی اړوندو شوراګانو ته دې ډېر واک ورکړل شي، چې هغوی ازادانه د خپلو خلکو په خوښه پرېکړې وکړي او نظام هغه ډول وچلوي، چې دوی یې غواړي. د دې لپاره په دغو دندو د وړ خلکو ټاکنه بنسټیزه اړتیاده او د عدالت او د قانون د حاکمیت د ننګونې په نظر کې نیولو سره باید داهم وویو، چې په دغه کچه دپولیسو مشران، د محلي محکمو قاضیان او ځارنوال هم همداسې مهم دي، لکه والیان او ولسوالان. په محلي کچه حکومتي چاروکو او د هغوی اړوندو شوراګانو ته دا نېغه دنده (واک) هم ورکول پکار دي، چې د پرمختګونو ځارنه وکړي، شخړې اوارې کړي، امنیت کې برخه او سیمه ییز مخالفان او د هغوی خواخوږي له دولت سره یوځای کړي.

دریم، د قانون جوړولو یو نوی پراو باید پیل شي، ضروري نه ده چې اساسي قانون دې هم بدل شي. دا قانون جوړونه دې د پارلمان او ولسمشر د واکونو په هکله وي، چې په پایله کې یې پارلمان ته په سیاسي جوړښت کې یو رښتینې رول ورکړل شي. داسې یو رول ورکول به دوی وهڅوي چې انتقادي و اوسي او په پای کې به د داسې پرمختګونو لارې پرانیزي چې په اوسني افغانستان کې به ببڅي نوې وي. داسې به یو ولسواک، جوړوونکی او هېواد ته وفادار اپوزیشن هم رامنځته شي.

څلورم، د دې ټولو ترڅنګ باید د فساد دله منځه وړلو لپاره غښتلې هڅې خامخا وشي. د ولسمشر کرزي دا ژمنه ارزښتمنه ده چې د معافیت کولتور به له منځه وړي او یو نوی فساد ضد یونټ به جوړوي. په دې هم باید زور واچول شي، چې افغان دولت د نړیوالې ټولنې په مرسته ځنګه کولای شي، چې د نشه یي توکو له پراخې سوداګرۍ سره مقابله وکړي. دا د عامو خلکو د هغې اندېښنې تر ژورو رسېږي، چې د فساد د ډېروالي او د قانون دحاکمیت د کموالي په اړه یې لري. د دې یوه برخه دا یقیني کوي، چې نوی سیاسي جوړښت به د ځارنې، نګرانۍ او توازن پر بنسټ ولاړ وي. لکه ازادې محکمې او په رونوالي او مسوولیت باندې ټینګار، چې وښیي پر دولت د خلکو بادار او اقا نه دی، بلکې په هره کچه او هره بڼه د افغانانویو رښتینی خدمتګار دی.

بهرنی سیاسي جوړښت

د هېڅ هېواد اویا لږ تر لږه د افغانستان سیاست له نورو نه جلا نه شي پایېدلای. له اوږدې مودې راهیسې افغانستان د بهرنیو مداخلو او لاس وهنو قرباني شوی دی. نن په کې د سیمې ګټې تعقیبېږي او خپله یې قومونه او نژادي ګروپونه په جنوب، ختیځ او شمال کې ګرځي، چې له سرحدونو پورې کوم پناځای پیداکړي. ځوک چې د دولت مخالفت کوي تراوسه له بهر نه مرستې، ملاتړ او تحفظ ترلاسه کوي. که افغانستان د یو سوله ییز او نېکمرغه هېواد په ډول رامنځته کول وي، نو د دې کلکه اړتیاشته چې نه یوازې یونوی داخلي سیاسي جوړښت رامنځته کړل شي، بلکې یو نوی بهرنی سیاسي جوړښت هم منځته راشي.

جیوپولټیکي ننګونو ته یو نوی توازن ورکړل شي، د پاکستان او هندوستان د اوږدمهاله تشنج په ګډون او د ایران شتوالي ته، داسې ښکاري چې افغانستان له خپله بده قسمته د خپلو دوښمنو ګاونډیانو د قدرت غوښتنې د لوبو قرباني کېږي. د دې حالت منطق دادی چې افغانستان ترهغه وخته پورې سوله نه شي ترلاسه کولای، څو پورې چې د دې سیمې د هېوادونو نه اېلېدونکې ستونزې نه وي اوارې شوې. خو دلته نور بدیلونه او په پای کې هیله ټوکوونکي شونتیاوې شته چې پرمټ یې افغانستان د ډېرو ګټورو سیمه ییزو همکاریو او اړیکو کور ګرځېدای شي.

لومړی قدم، د افغانستان د ټولوګاونډیو او سیمه ییزو قدرتونو له خوا د دوو ساده حقیقتونو ادراک دی.

لومړی حقیقت: هېڅ یو سیمه ییز قدرت او ورسره نړیواله ټولنه به افغانستان دې ته پرې نږدي، چې د کوم ګاونډي ترتسلط لاندې راشي.

دویم حقیقت: د افغانستان اوسنی حالت ټولو ته زیان اړوونکی دی، جرمونه، نشه یي توکي، تروریزم او له پولې نورو غاړو ته د مهاجرو خورېدل، په داسې حال کې چې د افغانستان د منرالونو شتمني او زراعتي ځمکې په سیمه کې د ټولو لپاره ګټوري دي. دا دوه حقیقتونه خامخا د سیمې د هېوادونو لپاره د شریکو ګټو یو داسې بنسټ رامنځته کولای شي، چې ټول پرې راټول شي:

دویم او دا ټکی ډېر پېچلی دی، د دې ډېره اړتیاده چې په ډېرې رښتیاینې سره د ګاونډیو هېوادونو ښلاېلې ګټې او اندېښنې وپېژنو، چې بیا ورته د ځواب ویلو لپاره هڅې وکړل شي. پاکستان دلته مهم دی. دا هغه د امنیت او خبرو اترو ډېرې کلیانې لري. په روښانه ډول داپکاره، چې په افغانستان کې دکوم حل د لټولو لپاره پاکستان ملګری کړل شي. پاکستان د ۱۷۰میلیونه وګړو هېواد دی. دا یو اتومي ځواک دی. پاکستان به یوازې د خپلو ملي ګټو په پام کې نیولو سره عمل کوي او دا طبعي ده. له افغانستان سره اړیکي د دوی ملي امنیت ته ارزښتمن دي. پاکستان په خپل درشل کې د یو غیرپښتون افغان ملي پوځ له جوړېدو نه وېره لري او همدارنګه له هندوستان سره د افغانستان له اړیکو هم وېرېږي.

پاکستان له یوه کول (نسل) نه راپه دې خوا له امریکاسره ډېر ګران اړیکي لري. له پاکستان سره د اوباما د اداړې د امنیتي، اقتصادي، او سیاسي اړیکو د تعقیب پرېکړه ارزښتمنه ده. دا پالیسي یوه مهمه موکه پیداکوي، چې د پاکستان او زمورږ اندېښنو ته ځواب ووایل شي. دکیري لوګر ماده چې په پنځو کلونوکې پاکستان ته څه باندې اووه بېلیونه ډالره مرسته ورکوي، چې په ناپوځي ځایونو کې یې ولګوي او په مقابل کې به یې پاکستان په خپله خاوره کې د اورپکو پرضد اغېزمن ګامونه اخلي، په دې هکله یوه ارزښتمنه معامله ده. خو پرمختګ په اسانه نه شي ترلاسه کېدای، زیات جدي، زیات مساوي امریکا- پاکستان امنیتي ستراتیژیکي ادراک هم ورته بنسټیز شی دی. د خپلو لوړیځو پولو د امنیت په اړه د پاکستان له وېرو سره د دې هم اړتیاده، چې په افغانستان کې د پاکستان خپلې بوختیا ته هم رسېدنه وشي.

هرهېواد دې دا ومني چې په افغانستان کې د پاکستان له اعتماد اخیستو پرته هېڅ سیاسي جوړښت نه رامنځته کېږي او همدارنګه دلته به هېڅ سیاسي جوړښت پرته له هندوستان، روسیې، ترکیې او د چین له بوختیا پرته نه راځي. چین د افغانستان ترټولو لوی بهرنی سرمایه لګوونکی دی. هند دافغانستان د بیارغاونې لپاره د ۱،۲ میلیارده ډالرو د مرستې ژمنه کړې ده. دا یو لوی رول لري چې ویې لوبوي. همدارنګه ایرانی رژیم، چې اتومي پالیسیو یې ملګري ملتونه مسخره کړي او دګاونډیانو د ناکراره کولو د هڅو مخینه لري، باید خامخا پوه شي چې بڼه لاره چې خپله سرمایه وساتي او خپلې شیعه عقیدې لپاره کاروکړي، نوبڼه لاره په افغانستان کې سوله راټل ده، نه سوله له منځه وړل. د لندن په کنفرنس کې برخه نه اخیستل د ایراني دولت لنډپاري وه.

درېیم، دا هغه دی چې بهرنی سیاسي جوړښت په روښانه ډول له داخلي سیاسي جوړښت سره تړي. دلته د دې اړتیا شته چې په را روان وخت کې د افغانستان د بهرنی پالیسی د لوړیو په ټاکنه کې باید ښکاره شفافیت او روښانتیا موجوده وي. دا په افغانانو پورې تړلې ده چې دا کار ځنګه ترسره کوي، خو د دوی بوختیاوې د اعتماد په پیداکولو او د غلط فهمیو په له منځه وړلو کې لوی لاس لرلای شي. له دې سره تړلی داچې، باید په افغانستان کې د نړیوالوځواکونو د شتون، فعالیت او د راروانو وختونو د پلان، په هکله هم یوه موافقه او روښانتیا موجوده وي.

ځلورم، اقتصادیات باید د ښو سیمه ییزو اړیکو لپاره بنسټ وي. افغانستان که د منځنۍ اسیا، جنوبي اسیا او خلیج ترمنځ په ځمکني پل واوړي، د دې ټولو ګاونډیانو ته ګټه رسولای شي. لکه د ورښېمو لار چې د ډېرو پېړیو لپاره لویه تجارتي لار وه. دلته له سوداګرۍ او ټرانسپورټ نه پرته هم د اوبو او برېښنا د وېش له پلوه او د اقتصادي زېرمو د کارولو له پلوه هم نورې ګډې ګټې شته، چې هم افغانستان ته ګټه رسولای شي هم ګاونډیو هېوادونو ته.

پنځم، د یوه فورم پوښتنه ده چې داکار په کې نور مخکې بوتلل شي. دا پروسه باید خامخا د سیمې د هېوادونو له خوا پرمخ لاړه شي. یوازې دا دولتونه پرېکړه کولای شي چې په سیمه کې د اړتیاوړ جدي او اوږدمهالي شراکت ته بنسټ د جنوبي اسیا د سیمه ییزې همکارۍ د سازمان او که د اسلامي کنفرانس په مرسته جوړېدای شي. افغانان دې له ملګروملتونوسره د خپلې ملګرتیا مشري هم پر غاړه واخلي. په دې وخت کې یې دا چاره کېدای د ثبات، امنیت او همکارۍ په اړه د جنوبي اسیا یو کنفرانس ته رهنمایي کړي. د دې پورته ټولو ټکو په نظر کې نیولو سره افغانانو ته ښایي چې په خپل هېواد کې د مستقبل د سیاسي پروسې په هکله خپله پرېکړه وکړي، دګاونډیانو یوازې قانوني ګټې ارزښتمني دي، نه دوی افغان دولت او افغانان لاندې کولای شي او نه یې مورږ دې پرېږدو. هغه ورځې تللي چې خواکمنو هېوادونو به خپل کمزوري ګاونډیان تر ښکېلاک لاندې راوستل.

پایله

که مورږ په بریالیتوب سره دا دا ستراتیژي چې ما وړاندې کړه پلې کړو، نو د افغانستان لپاره یوه ښه راتلونکی کوم خیالي هدف نه دی. له دوو تر پنځو کلونو دا ریالیستیکه ده، دا د یوداسې هېواد په بڼه ووینو چې په همدې ارزښتمنه کربنه به پروت، غریب به وي خو باثباته او سوله ییز به هم وي، یوه پراخه دیموکراسي او د هرې کچې سیاسي جوړښت به لري، د مالي عوایدو د پېرښت به لري. کلیوال اوسېدونکي به یې برېښنالري، په سیمه ییزو بازارونوکې به یې نور دوکانونه خلاص شي، د ډېر ماشومان په ځانګړې ډول د ډېرې جینکۍ به ښوونځي ته ځي.

د ډېر مخالفین به، لکه څنګه چې ویل کېږي په ورځ لس ډاله اخیستونکي طالبان، به په خپلو کلیوکې ځای پرځای شي او لږ تر لږه یوځه مشران به یې په قانوني سیاسي پروسه کې رایوځای شي.

ټولنې به په زیاتېدونکي ډول د دې وړ وي، چې د ځان ساتنې لپاره پر افغان امنیتي ځواکونو باور وکړي. نړیوال پوځونه به له لومړۍ لیکې نه په شاکېږي، خو دوی به بیاهم یو رول لري او کله کله یو خطرناک رول، د خپلو افغانو سیالوځواکونو د روزنې او لارښوونې رول. ګاونډیان به په ګډه کارکوي، د ستونزو مخنیوی به کوي. تېل به پرې نه شیندي او د دې ټولو له پاسه دا چې القاعده به له دې ځایه بهر شوې وي.

زه افغانستان ته د بریتانیا د بهرنیوچارو د سکرتر په توګه شپږ ځله تللی یم. په لومړي ځل د ۲۰۰۷په جولای کې ما د افغانستان د وروستي پاچا محمدظاهرشاه په جنازه کې ګډون وکړ. هغه غم چې ما مشاهده کړ څرګند او جور و. خو همداسې یو ملي یووالی هم و. نژادي وفاداري او تېرې دوښمنۍ یوې خواته پرېښودل شوې وې چې د ملت دبابا پر مړینه ویر وکړي.

یوه پاچا ته د وفادارو ترمنځ دغه یووالی نن نه ښکاري. د دې ځای د خلکو ترمنځ دې ژورې غوښتنې نیولی، چې هغسې ژوند وکړي چې دوی یې سم ګڼي. پوځي عملیات د بریالیتوب لپاره ارزښتمن دي، همدارنګه پر ولسي اقتصاد باندې سرمایه کاري هم؛ خو اوس په افغانستان کې د یوه نوي سیاسي جوړښت د راتلو لپاره دومره زور او سبک پکار دی، په ځومره زور چې مورږ پوځي او ولسي هڅې کوو. دا په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسولو لار ده.

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسوولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل:– ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل:– ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل:– ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین: انجینیر محمدجمیل "امیری"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل: erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com